


په بلجیم کې د آغلې جمیله زمان انوري د ټولنیز، علمي، ادبي او فرهنګي هاندوهڅو
په ویاړ نمانځ غونډه

# په بلجیم کې دخینت په ښار کې د اغلې جمیله زمان انوري د علمي، ټولنیز، ادبي او فرهنګي هاندو و هڅو په ویاړ نمانځ غونډه :

دغه غونډه پر(۲۰۱۷) زیږدیز کال د اپریل میاشتې پر (۱) نیټه د بلجیم په هیواد کې د (خینت) په ښار کې دافغانانو د ملي یوالې د ټولنې له خوا جوړه شوه .

په دې غونډه کې پر کوربه هيواد سربېره له بېلابېلو اروپايي هيوادونو څخه د پښتو او دري- پارسي ادب و فرهنګ پيژندل ښويو او نامتو څيرو، ليکوالو، اديبانو او شاعرانو، او ګڼو مينه والو هم برخه اخيستې وه.

– غونډه د ښاغلي اجمل رحيمي له خوا د پاک قرآن د څو مبارکو آيتونو په تلاوت سره پيل شوه .




وريسې زموږ د هيواد د راديو او تيلويزون پخوانې اوخوږ ژبې وياندې، اغلې سهيلا بسام او د راديوتيلويزون پخوانی تکړه وياند ښاغلي سخي فرجام د غونډې په اړه ګډونوالو ته معلومات ورکړ .




غونډه له درې برخو څخه جوړه شوې وه :

- لومړی برخه ویناوې

- دویمه برخه مشاعره

- دریمه برخه پیغامونه، ټنګ ټکوراو د موسیقي مجلس وه .

- اغلې سهیلا بسام ښاغلي خلیل الله وفا خدرخیل د افغانانو د ملي یوالې ټولنې مشر ته بلنه ورکړه چې خپلې خبرې پیل کړي. ښاغلی خلیل الله وفا خدرخیل چې یو فعال او هڅاند علمي، ټولنیز شخصیت، د علم او ادب تکړه مینه وال دی په خپلو خبرو کې ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه، او له دوی څخه چې په دغه غونډه کې یې برخه اخیستې وه د زړه له کومې مننه وکړه او د اغلې جمیله زمان انوري د ټولنیز، ادبي او فرهنګي هاندو هڅو په تړاو یې د خپل ستاینې او درنښت مراتب وړاندې کړل.



- په دې غونډوه کې د خینت ښار والي ښاغلي (دنیل تېرمونت) او د خینت د ښار د کلتوري او فرهنګي چاروکارکوونکې اغلې (دی زیرې دیرکسن)، د ترکیې د کلتوري ټولنې مشر، د پولیند د کلتوري ټولنې مشراو همداسې یو شمیر نورو کارکوونکو هم ګډون درلود.

اغلې سهیلا بسام د ښاغلي (دنیل تېرمونت) د خینت ښار والي ته بلنه ورکړه چې خپله وینا ګډونوالو ته وړاندې کړي.

ښاغلي (دنیل تېرمونت) د خینت د ښار او د مهاجرو په اړه چې په خینت کې ژوند کوي معلومات وړاندې کړ او د افغانانو د اتحاد او اتفاق، ورولي او یوالي په تېراو او له دوی سره د کار او زده کړو په اړه خپل هر اړخیزملاتړ او همکاري وښوودله، برخوالو په دې غونډه کې له چک چکو سره سم د ده توود هرکلی وکړ.


دافغا نا نو ملي يوا لي تولنه
بلجيم
Afghaanse Nationale Unie in België



- ښاغلي سخي فرجام  انجنير عبدالقادر مسعود ته بلنه ورکړه  چې خپله وينا ګډونوالو ته  واوروي. انجنير عبدالقادرمسعود د اغلې جميله زمان انوري د ژوند ليک او د دې د ټولنيز، علمي، ادبي او فرهنګي هاندوهڅو، بريوو او برياوو په تړاو په بشپړه توګه برخه والو ته معلومات وړاندې کړ، چې د اوريدونکو له خوا يې په ډيره مينه او د چک چکو سره يو ځای تاود هر کلی وشو.



- اغلې سهيلا بسام ښاغلي انجنير بشير بشيرته چې د (خينت)  په ښار کې د افغانانو د ملي يوالې د  ټولنې فعال او تکړه غړی دی بلنه ورکړه چې خپله وينا واوروي. ښاغلي انجنير بشير بشير د خپلې ټولنې په اړه او د افغانانو د اتفاق او اتحاد، يوالي او ورولي او د ګډ کار او ژوند په تړاو اوريدونکو ته معلومات وړاندې کړ، او په خپلو خبرو کې يې د اغلې جميله زمان انوري علمي، ادبي او فرهنګي شخصيت وستايه، چې د ګډونوالو له خوا يې تاود هرکلی وشو.

- ورپسې زموږ د هيواد پيژندل شوى ليکوال، سياست پوه، ټولنيز - پوه، شاعر او اديب ښاغلي پوهنيار بشير مومن ته بلنه ورکړل شوه چې خپله وينا د غونډې ګډون والو ته واوروي.

ښاغلي پوهنيار بشير مومن په خپله ليکنه کې، د افغاني ښځو مقام او منزلت، او د نطاقانو او ويناوالو ګټور او ارزښتناک اغيز په ټولنه کې او د جميله زمان انوري ټولنير وطني، ملي، ادبي او فرهنګي شخصيت داسې انځور کړئ وه، چې د ګډون والو د تاوده هرکلي سره مخامخ شو. ښاغلي بشير مومن خپل دوه کتابونه چې (جامعه شناسى او زيبايى شناسى) نوميږي هم اغلې جميله زمان انوري ته ډالۍ کړل.




د ښاغلي بشير مومن وينا د اغلې جميله زمان انوري په نمانځ غونډه کې

- په دې پرتمينه غونډه کې ښاغلي نقيب الله رادمل چې زموږ د هيواد د علم او ادب تکړه مينه وال دى هم ګډون درلود. ده خپله وينا د خپلې

ټولنې په استازیتوب د اغلې جمیله زمان انوري د ادبي او فرهنګي ستې په تړاو اوریدونکو ته واوروله، چې د کډونوالو له خوا یې په ډیر مینه هر کلی وشو.  ده دا خبره هم څرګنده کړه چې زموږ ټولنې یو ستاینلیک جمیله زمان انوري ته ترتیب کړئ و خو له بده مرغه د تخنیکي ستونزو له مخې دا ستاینلیک ما له ځان سره دغه غونډې ته نه دی راوړئ او ژمنه یې وکړه چې وروسته به دا ستاینلیک اغلې جمیله زمان انوري ته په ډیره مینه سره ډالۍ کړي.او د خپلو خبرو په پای کې یې اغلې جمیله زمان انوري ته د ګلونو یوه ښکلې ګیډۍ هم ډالۍ کړه.





- ورپسې ښاغلي عبدالسلام احمدي ته بلنه وکړل شوه چې خپل وینا برخه والو ته واوروي. ښاغلي عبدالسلام احمدي د اغلې جمیله زمان انوري د ادبي او فرهنګي شخصیت په اړه خپلو خبرو ته دوام ورکړ او د ګلونو یوه ښکلې ګېډۍ یې هم ورته ډالۍ کړه.



- په دې غونډه کې زموږ د هیواد تکړه، او نوښتګر انځورګر ښاغلي شفیق کاکړ هم ګډون درلود،. ښاغلي شفیق کاکړ په خبرو کې وویل : اغلې جمیله زمان انوري نه یوازې چې زموږ د هیواد یوه نامتو او تکړه ویانده ده خو ما ته د مور په شان خپل ځای او مقام لري او په ډیر مینه او درنښت ما د دې عکس څو وخته مخکې انځور کړې وه خو کله چې ماته په دې غونډه کې د انجنیر عبدالقادر له خوا بلنه راکړل شوه نو دې پایلې ته ورسیدم چې دا انځور ارومرو بشپړ کړم او په دې غونډه کې یې ورته ډالۍ کړم . ښاغلي شفیق کاکړ دا ښکلی انځور چې په ډیر عالي او ظریفانه بڼه انځور شوی وه، اغلې جمیله زما انوري ته په دې غونډه کې په ډیره مینه ډالۍ کړ چې د ګډونوالو له خوا په چک چکو یې هر کلی وشو.



- ورپسې په دغه غونډه کې انجنیر حضرت ته بلنه ورکړل شوه چې خپله وینا واوروي. ښاغلی انجنیر حضرت چې د پښتو ادب او فرهنګ ژور مینه وال ، او په بلجیم کې د افغاني ادبي او کلتوري ټولنې دروند

او فعال شخصیت دی، په دې غونډه کې د خپلې ټولنې په استازیتوب په خپلو ګټورو او اغیزناکو خبرو دا غونډه نوره هم لا درنه کړه . ده د خپلو خبر په ترځ کې وویل، چې موږ د ټولنې له خوا اغلې جمیله زمان انوري ته یو ستاینلیک هم ترتیب کړې وه، خو له بده مرغه د تخنیکي ستونزو له مخې دا ستاینلیک ما له ځان سره دغه غونډې ته نه دی راوړئ او ژمنه یې وکړه چې وروسته به دا ستاینلیک اغلې جمیله زمان انوري ته په ډیره مینه سره ډالۍ کړي.

- همداسې اغلې سعیده طلوع چې د هالند په هیواد کې د ایندهوفن په ښار کې د افغانانو د ملي یوالې د ټولنې مشره ده اود افغانانو د اتحاد، اتفاق او ورورولي په تړاو یې  تل فعاله او نه ستړیکیدونکې ونډه اخیستی ده  هم په دې پرتمینه غونډه کې ګډون درلود. اغلې سعیده طلوع د اغلې جمیله زمان انوري د ټولنیز، علمي او ادبي شخصیت د ستاینې او درنښت په څنګ کې د خپلې ټولنې له خوا یو (اوارد) او ستاینلیک ترتیب کړی وه،  اغلې جمیله زمان انوري ته یې ډالۍ کړ.



- په دې پرتمینه غونډه کې په هالند کې د افغاني ښځو د سراسري شورا ریسه اغلې سهیلا زحمت هم ګډون درلود. اغلې سهیلا زحمت هغه هڅانده او تکړه ستړه ده چې د افغاني ښځو د یوالي، اتحاد او اتفاق په تړاو یې فعالانه هڅې ترسره کړې دي. دې د اغلې جمیله زمان انوري د هاندو هڅو په اړه په دې شورا کې او د دې د ټولنیز، علمي او ادبي شخصیت په تړاو رڼا واچوله او تر څنګ یې د شورا له خوا یو ستاینلیک ترتیب کړې وه چې اغلې جمیله زمان انوري ته یې په ډېره مینه ډالۍ کړ.



- ورپسې خدیجه برکي چې په هالند کې د میهن د ټولنې یوه با احساسه، فعاله او تکړه غړې ، او په هالند کې د ښځو د سراسري ټولنې غړې ده هم ګډون درلود. اغلې خدیجه برکي په خپلو خبرو کې د خپلې ټولنې په استازیتوب د اغلې جمیله زمان انوري ټولنیز، ادبي او فرهنګي هڅې وستایلې، د ستاینې او درنښت ترڅنګ یې د ګلونو یوه ښکلې ګېډۍ هم ورته ډالۍ کړه.




- همداسې اغلې سهيلا بسام د ښاغلي صنعت بسام يو ښکلی پيغام چې له علمي، ادبي او فرهنګي محتوا څخه ډک وُ، او د اغلې جميله زمان انوري ښکلی غږ، او، نطاقي، ادبي او فرهنګي شخصيت په کې په ډير عالي او ظريفانه ښه انځور شوی وه ګډونوالو ته واوروه چې توود هرکلی يې وشو.




د دې برخې په پای کې ښاغلي خليل الله خدرخيل د خپلې ټولنې د غړو څخه هيله وکړه چې د ستيژ سر ته راشي. دوی په ګډه سره هغه ستاينليک چې د افغانانو د ملي يوالې ټولنې له خوا د خينت په ښار کې ترتيب شوی وء اغلې جميله زمان انوري ته ډالۍ کړ، چې په ډيره مينه د ګډونوالو له خوا يې هرکلی وشو.

په دويمه برخه کې اغلې سهيلا بسام ښاغلي نذير احمد نذير او اغلې عارفه ته بلنه ورکړه ترڅو د غونډې دويمه برخې مشاعرې ته دوام ورکړي.

اغلې عارفه يوه خوږ ژبې او هڅانده ويانده او نذير احمد نذير چې د پښتو ادب په ډګر کې ځوان او تاند شاعر، اديب او تکړه وياند دی د مشاعرې په تړاو خپلې خبرې پيل کړې.

اغلې عارفه ميرمن سهيلا بسام ته بلنه ورکړه هغه شعر چې پيژندل شوي او تکړه شاعر او ليکوال خدای بخښلی ملزم پر (۱۳۴۴) لمريز

کال کې د اغلې جمیله زمان انوري په اړه لیکلی وء په خپل خوږ آواز کې دیکلمه کړي او اوریدونکو ته یې واوروي. اغلې سهیلا بسام په خپل خوږ آواز کې د مرحوم ملزم شعر دیکلمه کړ چې د اوریدونکو له تاوده هرکلي سره مخامخ شو.




اغلې عارفه ښاغلي جلال عمرخیل ته بلنه ورکړه چې ښکلي او په زړه پورې شعرونه اوریدونکو ته واوروي. ښاغلی عمر خیل د پښتو ادب په ډګر کې هغه ځوان، هڅاند او مخکښ شاعر دی، چې په شعرونو کې یې د هیواد او هیوادوالو سره ژوره مینه نغښتی ده. ده په خپل خوږ غږ کې ډیر خوندور او له احساس ځخه ډک شعرونه ګدونوالو ته واورول چې د چک چکو او تاوده هرکلي سره مخامخ شو.

د رادیو تیلویزون پخوانۍ خوږ ژبې او تکړه ویاندې اغلې فوزیه میترا هم په دغه پرتمینه غونډه کې ګډون درلود. دې په خپلو خبرو کې د اغلې جمیله زمان انوري ټولنیز، ادبي او فرهنګي شخصیت وستایه او

وويل يئ چې ماته اغلي جميله زمان انوري د استاذ حيثيت لري. او په خپل خوندور غږ کې يې د يو شمير شاعرانو انتخابي شعرونه ديکلمه کړل، چې د اوريدونکو له خوا په چک چکو يې تاود هرکلی وشو.




ورپسې عباسين سيلاب د ستيژ سر ته راغی او د خپل زړه احساس او درد يې په خپلو شعرونه کې اوريدونکو ته واورول چې د ګډونوالو له تاوده هرکلي سره مخامخ شو.

ښاغلی ستومان چې يو ځوان او تاند شاعر دی په دې غونډه کې هم ګډون درلود. ده په خپلو شعرونو کې د خپل زړه درد، انساني احساس او پيغام په ډير عالي او ظريفانه بڼه انځور کړې وه. ګډونوالو د ده د شعرونو په اوريدلو سره په چک چکو د ده تاود هرکلی وکړ.

ښاغلي نذير احمد نذير هم په خپل خوږ اواز کې خپل خوندوراو ښکلي شعرونه ديکلمه کړ او دا غونډه يې نوره هم رنګينه کړه. چې ګډونوالو يې په مينه سره هرکلی وکړ.



اغلې عارفه، سهیل شینواري ته چې یو تکړه ځوان شاعر دی بلنه ورکړه چې خپل خوندور شعرونه اوریدونکو ته واوروي. اوریدونکو په مینه سره شعرونه ته غوږ شول او توود هرکلی یې وکړ.

ښاغلي ډاکټر حمیدالله ساپی زړه ور هم په دې غونډه کې ګډون درلود چې ده هم د ښکلو شعرونو په ویلو دا غونډه نوره هم رنګینه کړه.

ورپسې ښاغلي سخي فرجام په خپل خوندورغږ کې یو ښکلی او په زړه پوری شعر دیکلمه کړ چې غونډې ته یې نوره هم ښکلا ورکړه او د اوریدنکو د تاوده هر کلي سره مخامخ شو.



په دې برخه کې اغلې جميله زمان انوري ته بلنه ورکړل شوه چې خپلې خبرې ګډونوالو ته واوروي. اغلې جميله زمان انوري د تاوده هرکلي او چک چکو سره خپله وينا پيل کړه. دې د خپل ژوند ليک او د خپلې نطاقۍ، ټولنيز، ادبي او فرهنګي هاندو هڅو په تړاو په لنډه توګه اوريدونکو ته معلومات ورکړ او له ټولو مينه والو څخه چې په دغه غونډه کې يې ګډون کړې وُ، او له ټولو دوستانو څخه چې د دغې درنې او پرتمينې غونډې په جوړولو کې يې فعاله برخه درلوده د زړه له کومې مننه او درناوی وکړ.



په نمانځ غونډه کې د اغلې جميله زما انوري وينا




په بلجيم کې دآغلې جميله زمان انوري د ټولنيز، علمي، ادبي او فرهنګي هاندوهڅو په وياړ نمانځ غونډه

د غونډې په دریمه برخه کې د ماښام ډوډی او په زړه پورې هنري
کنسرت ته ځانګړې شوې وه، چې زموږ د هیواد تکړه او ځوانو
هنرمندانو مصطفی جان او فرید جان ، د ټنګ ټکور په برخه کې
ښکلې او  په زړه پورې مستې سندرې واورولې او ټولو ځوانانو په ملي
اتڼ کې هم فعاله برخه واخیسته، چې په تودو ولولو او چک چکو سره
بدرګه شول .




د یادونې وړ ګڼم د دغې غونډې په غوړیدلو او رنګینولو کې د آغلې
سهیلا بسام، ښاغلي سخي فرجام چې زموږ د هیواد پخواني، پیژندل
شوي خوږ ژبي او تکړه نطاقان دي او اغلې عارفه او ښاغلی نذیر
احمد نذیر چې ځوان ، هڅاند او خوږ ژبي نطاقان دي د غونډې د مختلفه
بیولو په برخه کې  د دوی ټولو هلې ځلې او ونډه  د خورا قدر او
درنښت وړ ده.

او همداسې د ښاغلي جاوید ستانکزي هلې ځلې د فلم جوړولو او عکس اخیستلو په برخه کې او د ښاغلي عبدالباقي، ښاغلي مجیدي، ښاغلي احسان الله، ښاغلي عبدالعزیز چکري، ښاغلي عبدالغفور، ښاغلي عزت، ښاغلي اجمل رحیمي، ښاغلي محمد اسماعیل، ښاغلي فریدون عباسي او ښاغلي جاوید ستانکزی فعاله ونډه په دغه غونډه کې د قدر اوستاینې وړ ده.

په پای کې ټولو مینه والو، او په تیره بیا ټولو ځوانانو د اغلې جمیله زمان انوري ستاینلیکونه، مډالونه او د دې د ټولنیز، ادبي او فرهنګي شخصیت په تړاو یو شمیر نورمعتبراسناد چې په یو ځانګړي ځای کې د میز پرسر ایښي وُ ولیدل او وستایل، اوټولو دوستانو او په تیره بیا ځوانانو د اغلې جمیله زمان انوري سره د یادګاري عکسونه هم واخیستل.











دا پرتمینه غونډه د شپې پر دوولس بجې پای ته ورسیده .

په ډیر درنښت او ادبي مینه : انجنیرعبدالقادرمسعود